Office of Deputy PM for Economic Affairs
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت

# د افغانستـــان اقتصـادي پــرمختګ

## خبرپاڼه

دریيم کال - ۴۰مه ګڼه | پرله‌پسې ٦٦مه ګڼه

نېټه: ۱۴۰۵/۰۲/۳



په افغانســتان کې هره اوونۍ په بېلابېلو سکټورونو کې مهم اقتصــادي فعالیتونه او پرمختګونه رامنځته کېــږي. د افغانســتان اقتصادي پرمختــګ (خبرپاڼه) همدغو مهمو او وروســتیو اقتصادي فعالیتونو او پرمختګونو ته پوښښ ورکوي.

### په دې ګڼه کې لولئ:

۱- افغانستان او بيلاروس د سوداګرۍ د پراختيا له پاره ګډه کاري ډله جوړوي

۲- د کاسا ۱۰۰۰ پروژې د چارو پر چټکتيا د افغان او تاجکستاني لورو ټينګار

۳- په تاشکند نړيوال نندارتون کې د افغانستان د پانګونې د جذب هڅې

# افغانستان او بیلاروس د سوداګرۍ د پراختیا له پاره ګډه کاري ډله جوړوي



د افغانستان او بیلاروس ترمنځ د اقتصادي او سوداګریزو اړیکو د پراختیا له پاره نوې هڅې پیل شوې دي. د صنعت او سوداګرۍ وزیر نورالدین عزیزي ازبیکستان ته د خپل سفر پر مهال د بیلاروس د صنعت له وزیر سره په کتنه کې د دوه اړخیزو اقتصادي همکاریو پر پیاوړتیا، د سوداګرۍ د زیاتوالي او د پانګونې پر فرصتونو خبرې کړې دي. دا لیدنه د افغانستان د اقتصادي ډیپلوماسۍ د پیاوړتیا او د نویو سوداګریزو شریکانو د موندلو په لړ کې مهم ګام دی. په دې کتنه کې دواړو لورو د سوداګرۍ په پراختیا او د افغانستان له لورې د تېلو په پېرلو سربېره په نورو برخو کې د پانګونې پر فرصتونو بحث کړی دی. د افغانستان اسلامي امارت په وروستیو کلونو کې هڅه کړې چې د انرژۍ او صنعت په برخو کې د خپلو اړتیاوو د پوره کولو له پاره له نویو هېوادونو سره اړیکې پراخه کړي، څو د وارداتو له پاره بدیل بازارونه ومومي او د اقتصادي ثبات زمینه برابره کړي. د دې غونډې مهمه لاسته راوړنه د دواړو هېوادونو ترمنځ د یوې ګډې کاري ډلې پر جوړولو هوکړه وه. ټاکل شوې ده چې دا کاري ډله به د سوداګرۍ د پراختیا او د ګډو پروژو د عملي کولو له پاره لازمې اسانتیاوې برابرې کړي.د بیلاروس په څېر صنعتي هېواد سره د افغانستان اړیکې کولی شي د ماشین الاتو، تخنیکي تجهیزاتو او صنعتي تجربو د انتقال له پاره نوې لارې پرانیزي. دغه همکارۍ به د افغانستان د صنعتي بنسټونو د پیاوړتیا او د کورني تولید د پراختیا له پاره مهم فرصتونه برابر کړي. د ګډې کاري ډلې جوړېدل به د افغانستان د صادراتو د پراختیا، د وارداتو د متنوع کېدو او د سیمه ییزو او نړیوالو اقتصادي اړیکو د پراخېدو په برخه کې مثبت ګام ثابت شي.

# د کاسا ۱۰۰۰ پروژې د چارو پر چټکتیا د افغان او تاجکستاني لورو ټینګار



د افغانستان برېښنا شرکت عمومي اجراییوي رییس ملا عبدالحق همکار د تاجکستان په پلازمېنه دوشنبه کې د دغه هېواد د انرژۍ له وزیر دلیر جمعه سره د برېښنا سکټور د همکاریو او د کاسا-۱۰۰۰ سترې پروژې د پرمختګونو په اړه خبرې کړې دي.

افغان لورې په دې کتنه کې د پروژې د چارو پر چټکتیا ټینګار وکړ او د قراردادي شرکتونو د احتمالي ستونزو د حل، د تخنیکي همغږۍ د پیاوړتیا او د عملي کارونو د ژر پرمختګ غوښتنه یې وکړه. د تاجکستان د انرژۍ وزیر هم ډاډ ورکړ چې

هېواد به يې د پـروژې د همغږۍ او عملي کېدو له پاره خپلو هڅو ته دوام ورکړي.

کاسا-۱۰۰۰ پروژه د انـرژۍ د لېږد له مهمو پـروژو ده چـې د منځنـۍ اسـيا برېښـنا افغانسـتان او پاکسـتان تـه لېـږدوي. دا پروژه د افغانستان له پاره نه يوازې د انرژۍ د کمښت د حل يوه مهمه وسيله ده، بلکې د انرژۍ د ترانزيټ له لارې د عوايدو د زياتوالي مهم فرصت هم بلل کېږي.

د کاسـا-۱۰۰۰ پـروژې بشـپړېدل بـه افغانسـتان د انرژۍ له مصرف کوونکي هېواد څخه د انـرژۍ ترانزيټي دهلېز ته واړوي. د دې پروژې له لارې افغانستان کولی شـي کلني عوايد ترلاسـه کړي، د برېښـنا د کمښت ستونزه راکمه کړي او د سـيمې د انرژۍ په بازار کې مهم رول ولوبوي.

د دې پـروژې پـر چټکتيا ټينګار ښـيي چې افغانسـتان هڅـه کوي د انرژۍ سـکتور د اقتصـادي ودې پـه محرک بدل کـړي او د سـيمه ييـزو همکاريـو لـه لارې د خپـل اقتصادي ثبات بنسټونه پياوړي کړي.

# په تاشکند نړيوال نندارتون کې د افغانستان د پانګونې د جذب هڅې

د صنعـت او سـوداګرۍ وزيـر نورالديـن عزيـزي د ازبيکسـتان د نړيـوال صنعتـي نندارتون په مراسمو کې ګډون وکړ، چې د افغانسـتان د اقتصادي ډيپلوماسـۍ او د پانګونـې د جذب په برخه کـې مهم ګام بلـل کېـږي. دا درې ورځنـۍ نندارتـون د ازبيکستان تاشکند ښار کې جوړ شوی و او له افغانسـتانه پکې له ۶۰ ډېرو شـرکتونو برخـه اخيسـتې وه. پـه دې نندارتـون کې افغان شرکتونو د پنبې، ډبرو سکرو، درملو او کرنيزو محصولاتو په ګډون خپل توليـدات ننـدارې ته وړانـدې کـړل. دا ډول نړيوالـو نندارتونونـو کـې ګـډون د افغانسـتان له پاره مهم فرصت دی، ځکه د کورنيـو توليداتو د معرفـي کولو ترڅنګ د نړيوالو پانګوالو او سوداګرو پام هم ځان تـه رااړوي. پـه نړيوالـو صنعتـي او سـوداګريزو نندارتونونـو کـې ګـډون د صادراتو د پراختيا او د سوداګريزو تړونونو د لاسليک له پاره مهمه زمينه برابروي. دا د افغان او بهرنيو سوداګرو ترمنځ د اړيکو د پياوړتيا، د نويو بازارونو د موندلو او د پانګونـې د جلبولو له پـاره اغېزناک وي. د منځنۍ اسيا له هېوادونو سره د اقتصادي اړيکـو پراختيـا د افغانسـتان له پاره سـتر اهميـت لري. د سـيمې له بدلونونـو او له پاکسـتان سره د سـوداګرۍ له ترل کېدو وروسـته د افغانستان اسلامي امارت هڅه کـړې چـې بديـل بازارونه پيـدا کـړي او د افغانسـتان د صادراتـو له پـاره نوې لارې پرانيزي. د تاشکند په نړيوال نندارتون کې د افغانسـتان حضور د دې ښکارندويي کوي چې اسـلامي امارت غواړي خپـل توليدات نړيوالو بازارونو ته ورسوي، پانګونه جذب او د سيمه ييزو اقتصادي همکاريو له لارې د افغانستان اقتصاد پياوړی کړي.

